د افغانستان اسلامي امارت
د کندهـــــــار ولايت
د ښاروالي رياست
د عوايدو ، محاسبي او اداری چارو رياست
د تهيه او تدارکــاتو عمومي مديريت

## د ۱۴۰۱ مالي کال د مختلف النوع وسايطو د تيرونو او پرزه جاتو شرطپانه!

۱ : داوطلب شرکت بايد د رسمي جوازونه د ښاروالی او ايسا درلودونکي وي.
۲ : اصولاً د افر تضمين د ښاروالي په امانت حساب کښي تحويليږي که چيري هر شرکت برنده سو اصولاً به د قرارداد تر ختمه پوري تحويل سوي تضمين ساتل کيږي.
۳ :ټول هغه مختلف النوع وسايطو د پرزه جاتو د ترتيب سوی تخنيکي جدول پر اساس درته ښودل کيږي عملاً به د شرکت مسؤلينو لخوا د ترانسپورټ مديريت مربوط د تخنيکي کميټې په حضور کښي ورته اماده کيږي.
۴ :ټول پرزه جات بايد دمناسب قيمت او دښه کيفيت درولودونکي وي. پرزه جات بايد دخارجی پيژندل سوي کمپنۍ څخه وي او په کندهار ښار کښی مروجه وی او دترانسپورټ مديريت مربوط دوسايطو لپاره ښه نتيجه درلودونکي وي.
۵ :دا قرارداد به دشرکت او کند هار ښاروالي تر منځ د ۱۴۰۱ مالي کال لپاره داصولو له مخې عقد کيږي.
۶ : د کندهار ښاروالۍ د ترانسپورت مديريت مربوط د فورم (م۷) پر اساس تر تسليمی څخه وروسته به بعدأ عقد سوی قرارداد مطابق به هغه پرزه جات او تيرونه چه په ربع کښی پکاريږی اولاً د هيئت معاينه په توسط د ذکر سوی فورم د ترتيب او امضاء څخه وروسته د تخنيکی کميتی تايئد پر اساس د هری ربع د حساباتو تصفيه به صورت مومی. بعداً به د پورتنی فورم او جدول پر اساس و قراردادی ته د ربع مبلغ تادئيه کيږی.
۷ :د عقد سوي قرارداد د دولت ټول ماليات د شرکت دمسؤلينو پر غاړه دي.
۸:.د ګټوونکي شرکت د مسؤلينو ګرځنده ټليفون بايد فعال وي.
۹ : که ګټوونکي شرکت د شرطپاڼې د هري مادي څخه سره غړونه وکړي د کندهار ښاروالي دلزوم ديد په اساس ياد شرکت بيا د ښاروالی په پروژو کی د ګډون څخه محروم کيري او تضمين ئې په رسيدلی خساره کی استفاده کيږي.
۱۰: د کندهار ښاروالي دترانسپورټ مديريت ټولو وسايطو پرزه جات ته ضرورت لري په خپل وړانديز کې يي په جدولی شکل دخريداري غوښتنه کړيده چه د قرارداد دعقد کولو څخه وروسته به د ګټونکي قراردادي له خوا پر وخت او زمان ورته اماده کيږي.
۱۱: په هغه صورت کښی که د ټرانسپورټ مديريت د کاری وسايطو يو داسی پرزی ته ضرورت پيداکړی چه د يادي پرزی شتون په قرارداد کښی نه وو اولاً بايد د پرزی تبادلی په مورد تخنيکې کميټه نظر ورکړی او بعداً به يی په اړه وروستي اجرآت ترسره کړل شی.
پورته شرطپانه د (۱۱) يولسو مادو په چوکاټ کښی ترتيب او صحت لري.

په احترام

د تهيه او تدارکاتو عمومي مديريت　　د عوايدو ، محاسبی او اداری چارو رياست　　حاجی نعمت الله
د کندهار ښاروال


آدرس: ارګ بازار ۴ ناحيه ، کندهار ښار
داړيکی شميره: ۰۳۰۲۰۰۴۰۰۱
بريښنا ليک : Municipality .KDR @gmail.com
ويب پاڼه : www.Kandahar-m.gov.af

Address: Arg Bazaar, 4th District, Kandahar City
Phone #: 0302004001
E-mail Add: Municipality .KDR @gmail.com
Website: www.Kandahar-m.gov.af